## پنځه پراختیايي پروژې کټې اخیستنې ته وسپارل شوې

په لوګر کې د پنځو پراختیايي پروژو کاربشپړ او د وږي په ۲۳ مه کټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د دغو پروژو د پرانیستلو پرمهال لوګر والي محمد حلیم فدايي، دولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزي او دولایتي شورا غړو سربېره، د ټولګټو چارو رئیس هم ګډون کړی ؤ. دلوګرد ټولګټو چارو رئیس انجینرعبدالولي وویل: په دغو پروژو کې؛ استنادي دیوالونه شامل دي، چې په پل علم، خضر بازار او د تنګي واغجان په سیمو کې موقیعت لري، چې د دې دیوالونو اوږدوالی ۴۵۰ متره دی او ټولټال (لس میلونه) افغانۍ لګښت پرې راغلی، چې د ټولګټو وزارت دعادي بودیجې څخه مالي لګښت ورکړل شوی دی. انجنیر عبدالولي زیاته کړه، نوموړي پروژې د ولس له خوا د ټولګټو ریاست سره په همغږۍ غوره شوې وې، چې د سیلاوونو په مخنیوي، د کرنیزو ځمکو د سیلاوونو څخه د ساتنې او د کابل-ګردیز په لویه لاره د سړک د ساتلو او ټرافیکي پېښو دمخنیوي لپاره ګټورې وبنودې.

## په لوګر کې د شهید اونۍ...

د دې لمانځغونډې لومړی وینا وال د کار او ټولنیزو چارو رئیس طاهر شاه بلال ؤ، چې ګډونوالو ته د بنه راغلاست ترڅنګ د یاد ریاست په پرمختګونو هم خبرې وکړې.

ورپسې د ولایتي شورا غړي سید قریب الرحمن سادات او د شهیدانو د اونۍ دانسجام او همغږۍ د کمیسیون رئیس ګډونوالو ته د غونډې موخې څرګندې کړې.

وروسته د کار، ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو؛ چارو وزارت مرستیال واصل نورمومند خبرې وکړې، هغه د نوموړې وزارت شپږ ځانګړې هدفونه چې د شهیدانو د کورنیو او معیوبینو لپاره په پام کې لري په دې ډول یې دغونډې ګډونوالو ته څرګند کړ: «د زده کړو زمینه، د ښه ژوند پرمخ بیولو آسانتیاوې برابرول، دفني او حرفوي زده کړه ورکړه، دمناسب کاربرابرول، څوک چې کورنلري هغوی ته سرپناه برابرول او دوی ته د نورو عادي انسانانو په سترګه کتل» دي.

بیا لوګر والي محمد حلیم فدايي خبرې وکړې ویې ویل: ((د شهید فلسفه عدالت، عهد، وفا، استقامت او مساوات دی.))

والي په خپله وینا کې افغان امنیتي ځواکونه غازیان او د شهیدانو وارثین وبلل، زیاته یې کړه، چې شهیدانو دا وطن په خپلو وینو ګټلې او تاسو به یې ساتنه کوئ.

همدارنګه محمد حلیم فدايي، د شهیدانو وراثینو ته ژمنه ورکړه، چې د دې اونۍ په ویاړ ځانګړې کتابچې جوړیږي او له مخې به یې میاشتینی امتیازات ورکړل شي او تر څنګ به په لوګر کې د شهیدانو په نوم یو تفریحي پارک د جوړېدو یادونه وکړه.

فدايي یادې غونډې ته دیو پیغام په ترڅ کې وویل، چې د هرې شخړې هواری؛ د خبرو او سولې له لارې کېږي، نه د جنګ او زور له لارې.

دغونډې اجنډا سره سم، نورو وېناوالو هر یو شهزاده مسعود، د ولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزي، پخواني جهادي مشرانو هر یو حاجی احسان الله، حاجي سید محمد، انجینر عبدالطیف، مولوي شیر محمد، د لوګر د سرتاسري شورا مرستیال او د ولایتي شورا غړی عبدالولي وکیل خبرې وکړې او د شهید او شهادت پر فلسفه یې رڼا یې واچوله.

باید یادونه وشي، چې د امنیتي ځواکونو د تشویق او هڅونې په موخه دلوګر والي محمد حلیم فدايي، د ولایتي شورا غړو، ولسوالانو او د ولایتي ادارو رئیسانو او مسؤلینو د یادو ځواکونو جامې پر تن کړې وې.

## د تخت شاه د کرکټ ټیم د لوګر د سیالیو اتل شو

د تخت شاه د کرکټ ټیم د لوګر د کرکټ د دوبني تورنمنت په وروستی پړاؤ کې د مجاهد وطنوال ټیم ته په ماتې ورکولو سره د دغو سیالیو اتل شو.

د کرکټ د دوبني تورنمنت وروستی لوبه دوږي په ۲۲مه د تخت شاه او د مجاهد وطنوال د ټیمونو ترمنځ لوبه د لسګونو تنو ننداره کوونکو په وړاندې د لوګر ولایت د مرکز د کوچیانو د لیسې په ورزشي ډګر کې ترسره شوه.

لوبه لومړی د تخت شاه ټیم پیل کړه او په شلو اورونو کې یې خپل سیال ته د ۱۴۲ منډو هدف وټاکه او د مجاهد وطنوال ټیم ونه کړای شول دغه هدف ته ورسیږي او دویم مقام یې وګاټه. د لوګر ولایت د کرکټ بورد مسوول محمد جان حقیار د باختر آژانس خبریال ته وویل: د کرکټ دوبني تورنمنت د دغه ولایت د مرکز او د اړوندو ولسوالیو د دیرشو غوره ټیمونو ترمنځ د لوګر د کرکټ بورد له خوا د ځوانانو د ورزشي سازمان په مالي مرسته له نشه یي توکو سره د مبارزې تر عنوان لاندې د سوپرلیګ په ډول پیل شوی ؤ.

حقیار؛ د دغه تورنمنت د ترسره کولو هدف له نشه یي توکو سره مبارزه، د خلکو او پولیسو ترمنځ د همغږۍ د رامنځته کولو او په دغه ولایت کې د کرکټ د ورزش وده وبلله.

دغه تورنمنت یوه میاشت دوام وکړ او د تخت شاه د ټیم په اتلوالي سره پای ته ورسید او په دې تورنمنت کې اته غوره ټیمونه د لیګ سیالیو ته انتخاب شول.

حقیار د دغه شان سیالیو ترسره کول د کرکټ د ورزش د ودې په برخه کې ارزښتناک وبلل او څرګنده یې کړه، چې د لوګر ولایت زیات اوسیدونکي د کرکټ له ورزش سره مینه لري.

ده د ورزشي امکاناتو او ډګرونو نشتوالی په دې لاره کې مهم چلنجونه وبلل. باختر

## د کانکور پر داو طلبانو د فورمو د ویشلو لړۍ پیل شوه

د لوګرد مرکز او ولسوالیو د هلکانو او نجونو پرلېسو د کانکور د سږني ازمویني پرداوطلبانو د ګډون فورمو د ویشلو بهیر دتلې په ۱۲مه پیل شو.

د لوګرد پوهنې ریاست ویاند محمد شاه پورعرب رسنیو ته په استولي خبرپاڼې کې ویلي دي، دلوګر پرلېسو دکانکورداوطلبانو فورمو د ویشلو لړۍ د لوړو زده کړو وزارت د لارښوونې له مخې؛ سر له یادې نیټې څخه پیل او تر پنځلسو ورځو به دوام وکړي.

عرب ویلي، چې دغه فورمې د اړوندو لېسو د مدیریتونو له لارې پر زده کوونکو ویشل کیږي او هره فورمه د کانکور د لارښوونې له کتابچې سره یوځای د ۴ سوه افغانیو په بدل کې د کانکور داو طلبانو ته ورکول کیږي.

د عرب په خبره ؛ سږکال به د لوګرد کانکور په ازموینه کې؛ د مخکې کلونو د متفرقه او د ېلې څخه هغه لورې (خارج مرز) په ګډون شاوخوا ۴ زره داوطلبان ګډون وکړي.

## برای ترویج کشت زعفران درولایت لوگرتلاش ها آغازشده است

با وجود افزایش سطح کشت زعفران درکشورهنوز هم کشاورزان ، از نبود بازار مناسب برای فروش محصولات شان شکایت دارند.

نبات زعفران از جمله نباتاتی محسوب میشود که در سال های اخیر سطح کشت آن افزایش یافته است اما هنوز هم جایگاه واقعی خود را در بازارهای جهانی بدست نیاورده است.



انجنیرهمایون عمررئیس زراعت ولایت لوگرمی گوید: درصورت بسته بندی مناسب و بهبود کیفیت زغفران ، بازارفروش مناسبی برای این محصول بوجود خواهد آمد ،آقای عمرافزود روزگذشته 6000کیلوگرام تخم پیاززعفران وسامان آلات موردنیازآن، به بیش ازپانزده دهاقین ازبودجه انکشافی دولت توزیع شد که بیش از7.5 جریب زمین را تحت زرع قرارخواهدداد ،وی علاوه کرد که تا اکنون درساحه بیش از20 جریب زمین زعفران درولایت لوگرکشت می گردد ،رئیس زراعت خبرمی دهد که کارروی ترویج کشت زعفران دراین ولایت به شدت ادامه دارد.

بگفته مسولان ریاست زراعت لوگردراین ولایت ازمدت چهارسال بدینسو روی ترویج کشت زعفران سعی وتلاش آغازشده است که درمرکزوولسوالی های محمدآغه،برکی،خوشی وازره تعدادی اندکی ازدهاقین مصروف کشت آن میباشند. نبات زعفران بدلیل عدم نیاز زیاد به آب و مفاد اقتصادی به کشت کننده گان از جمله نبات هایی محسوب میگردد که مارکیت خوبی درجهان دارد.

گفتنی است زعفران بعنوان طعم دهنده و رنگ کننده غذا ,خاصیت دارویی و همچنان دم کننده برای تقویت اعصاب از سوی مصرف کننده گان استفاده میشود . اکثرباشندگان لوگرمی گویند که زعفران به ندرت دربعضی مناطق لوگرزرع میشود ودهاقین تا هنوزدرعرصه طرزکشت واستفاده آن هیچ معلومات ندارند.

باختر

## دافغان امنیتي ځواکونه څخه ملاتړ؛ دهرافغان دنده ده

دهیوادامنیتي ځواکونو ترمنځ دخلکو همغږي، کولای شي، چې دوطن په آبادي، امنیت او سوله کې رغنده ګامونه واخیستل شي، ترکومه چې لیدل کیږي، دهیوادپه لیرواوپرتوسیموکې د دولت او خلکو ترمنځ واټن څه ناڅه لیریوالې لري، لامل یې دغلطو پوهاوي او دخپل هیواد سره دنه علاقې ښودلو ده اوپایله یې هم دبدبختیو اوناامنیو زیږنده ده.

افغان ولس ته دهیواد په وړاندې هغه درونډ او ایماني مسؤلیت چې لري، باید دخپلوهیوادوالوپه چوپړ کې یې اداء کړي.

له دغو مسؤلیتونو څخه یو هم دامنیتي ځواکونو سره اوږه په اوږه همکاري او ددوی ملاتړې دی، ځکه یو لور به دهغو هیوادونو چې په افغانستان کې کورنۍ مداخله کوي، لاسونه یې شنډ او مخونه به یې تورشي او له بل پلوه افغانستان به دډاډمنې سولې، هوساینې او پرمختګ لورې ته ګامونه واخلي.

اوس ښایي، چې هغه کسان دوطن دویجاړوولو او ورانولو په موخه اوهم دبهرنیوهیوادونو چې دوی یې په غلطو خبرو هڅه ولي او په افغانستان کې دوینوتویولولپاره رالیږي، ځان سره دفکر وکړي، چې آیا دا کار دکولوده اوکه نه؟ دافغانستان ګاونډ هیوادونو ته دې فکر وکړي، چې دوی څومره پرمختګ کړي، ولې هلته داکارونه ترسرګوکیږي نه؟ نو اوس دې پوره سوچ اوفکر کولو وروسته ځان پوه کړي، چې رښتیا هم دا ناشونې کړنې ښې پایلې نه لري، ځکه په دې دنیا کې دخپلو هیوادولوپروړاندې هم مخ توري او په هغه دنیا کې دخدای (ج) او درسول(ص) په وړاندې هم شرمیدونکي او په عذاب اخته کسان وي. دابه څومره ښه کار وشي، چې دوی دوطن سره مینه پیداکړي، یوځای هیوادوالو سره ښه ژوند وکړي او دوطن په جوړولو کې لاسونه راونغاړي.

نور ملګرې دهم دې لارته وهڅوي، نو دی به دهیوادوالوپه زړونوکې خوږ شي او ددښمنانو مخونه به دسکاره په شان تل تور پاتي وي.

راځي چې نور چاته اجازه ورنه کړو، چې په افغان سپیڅلې خاورې ملنډې ووهي، د دوی دغلط تعلیم پروړاندې باید غاښ ماتوونکی ځواب وویل شي، ځکه تاریخ څرګنده کړې، چې افغانستان دنړۍ سترځواکې هیوادونه ته داسې ماته ورکړې، چې تراوسه یې درد نشي زغملی. نوهغه کسانوته داپوره جوته شي، چې د دوی نیکونو اوپلرونو؛ څومره ستونزې اوتکلیفونه ویستلي دي، ګاونډ هیوادونو ته د دوی نیکونواوپلرونو داسلامیت تعلیم ورښودلې، نو نن افسوس زمونږ په دې رازي، چې ولې دهغو مبارزینو اوسرښندونکو بچیان بیا دهغوی په خبروغولیږي اوخپل افغان ورونه وژني اوکورونه یې ویجاړوي. زمونږ ملي امنیتي ځواکونه، بهرني وګړي نه دي، داهم زمونږ دهیوادبچیان دي، چې ما اوتاساتئ. نورباید د دوی ملاتړې ووسو. مونږټول افغانان باید یوځای دحکومت سره دبریالیتوب په لورې ګامونه واخلواو دهیواد په سمسورتیا، جوړونې، رغاونې او ملي یوالې کې سره کار وکړو. نوبیازمونږ په هیوادکې شته ناخوالې پای مومي او ټولوافغانانولپاره دښه ژوند چارې برابریږي. دیوموټې اوډاډمن افغانستان په هیله

عزیزالرحمن((ستانکزی))